بسم الله الرحمن الرحیم

## الله سبحانه وتعالی څنګه د مومنانو زړونو ته ګوري؟

(ژباړه)

له ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«**إِنَّ اللَّهَ لاَ يَنْظُرُ إِلَى أَجْسَادِكُمْ وَلاَ إِلَى صُوَرِكُمْ وَلَكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ**» **وَأَشَارَ بِأَصَابِعِهِ إِلَى صَدْرِهِ** (رواه مسلم فی کتاب البر والصلة الأدب)

***ژباړه:*** *الله سبحانه وتعالی ستاسو بدنونو او څېرو ته نه ګوري؛ بلکې ستاسو زړونو ته ګوري او (رسول الله صلی الله علیه وسلم) د لاس په ګوتو د خپلې سینې قفس ته اشاره وکړه.*

الله سبحانه وتعالی زموږ زړونو ته ګوري؛ يعنې زموږ ايمان، دين، اخلاقو، عمل او نيت ته ګوري او زموږ بدنونو ته نه ګوري. په دې ځای کې هدف د محبت نظر دی. الله سبحانه وتعالی د خپل نظر تر څنګ پر خپل شريعت له موږ څخه ژمنتيا او دوام غواړي، دا نظر يوازې د تعقيب او پوهېدلو لپاره نه دی؛ ځکه الله سبحانه وتعالی په هر څه پوه او عالم دی، هېڅ شی ترې پټ نه دي. پر همدغه اساس، دلته څرګندېږي چې الله سبحانه وتعالی له موږ څخه داسې عمل غواړي چې د اخرت خير مو پکې وي. که فکر وکړو الله سبحانه وتعالی هغه بدنونه او ښايست چې د خير هيله نه ترې کېږي غندلي او فرمايي:

﴿**وَإِذَا رَأَيْتَهُمْ تُعْجِبُكَ أَجْسَامُهُمْ وَإِنْ يَقُولُوا تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ**﴾ [منافقون: 4]

***ژباړه:*** *ته که دوی ووینې، نو بڼې او څېرې به یې ډېرې روښانه درته ښکاره شي؛ که وغږېږي، نو خبرو ته به یې غوږ ونیسې.*

پر زړه را ښکونکي جذابیت او ښې وینا سربېره بیا هم دوی پر دېوال د تکیه شویو لرګیو غوندې دي: ﴿كَأَنَّهُمْ خُشُبٌ مُسَنَّدَةٌ﴾ یعني دوی لکه تختې داسې دي چې پر دېوال تکیه شوي وي (بې ځانه او بې ایمانه، خالي جسدونه، بې نوره، پر دروازو او دېوالونو)؛ نور بدنونه یې قوي، اوږده او پنډ؛ چې نه هم په ستونو کې کارېږي او نه هم د چت په پوښلو کې.

اې مسلمانانو وروڼو!

په دغه حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي چې د انسانانو ترمنځ توپیر او ښه والی په څېرې پورې اړه نه لري، بلکې په هغه څه پورې اړه لري چې پر الله سبحانه وتعالی د ایمان د قوي درلودو له امله زموږ په زړونو کې ځای شوي او د شرعي احکامو په پیروۍ او له الله سبحانه وتعالی څخه په وېره پورې اړوند دي.

نو افسوس پر هغو مسلمانانو چې د پسونو غوندې په هر کنج او څنډه کې د حکامو او سختو دښمنانو له خوا قرباني او وژل کېږي. له مسلمانۍ او دا چې وایي رب مې الله سبحانه وتعالی دی، پرته بله هېڅ پلمه ورته نشته. همدارنګه افسوس پر هغو مسلمانانو چې کفار ورته د دین په لار کې فتنه جوړوي؛ هغه کفار چې له یوې زاویې څخه د مسلمانانو او اسلام پر وړاندې جنګېږي. دا چې امت شپه او ورځ رګ پر رګ حلالېږي، هغه خلک چېرته دي چې د دغه اور مړه کولو، له منځه وړلو او د بریدونو مخنیوي لپاره اقدام وکړي؟

کومه دي هغه کسان چې د دغه واقعیت د بدلون لپاره قوي او لوی ګامونه اوچت کړي او د نبوت پر تګلاره د مسلمانانو راشده خلافت او اسلامي دولت د بیا را ژوندي کولو لپاره کار وکړي؟ هغه دولت چې د مسلمانانو حقوق تر لاسه او حق حقدار ته وسپاري. همدارنګه ټوله نړۍ د الله سبحانه وتعالی په احکامو روښانه او نوراني کړي.

د الله سبحانه وتعالى نظر داسې وي، دا يې مفهوم او معنى ده: (ينظر إلى قلوبكم) مورږ د رسول الله صلى االله عليه د صحابه كرامو په منځ كې بلال حبشي وينو چې يو تور پوستى انسان دى؛ خو الله سبحانه وتعالى يې ايمان ته ګوري؛ نه د ده څېرې ته.

دى جنتي دى لكه څنګه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

**يا بلال! (إنى أسمع خشخشة نعليك في الجنة)**

*يعنې اې بلاله! زه ستا د څپليو اواز په جنت كې اورم.*

يا باري الله! د خلافت دولت د تاسيس وس راكړې چې هلته حكم په بما انزل الله سره وي او زړونه مو ستا د نظر او رحمت ځاى وګرځوې! اللهمَّ آمين آمين!